بسم الله الرحمن الرحيم

# د ديني ويناوو د تغير لپاره د غرب پلان او پر مسجدونو او منبرونو يې اغېزې

## (ژباړه)

د ۲۰۲۰ ميلادي کال د ډيسمبر پر ۲۵مه د سوډان د ديني چارو او اوقافو وزير نصرالدين مفره او د مصر د اوقافو وزير محمد مختار جمعه په سکندريه کې د ابوبکر صديق روزنځای د سوډاني او مصري امامانو او د يو شمېر نړيوالو زده کوونکو لپاره پرانيست. مفرح د دغه روزنځي د پرانيستې پر مهال وويل: «دغه برنامه د ګډو همکاريو په چوکاټ کې ټولو نړيوالو ته يو پيغام دی، هغه څه چې موږ متحد کوي، منځلاري ده.» نوموړي زده کوونکي له بې شمېره اسانه لارو څخه د خپل دعوتي پيغام منلو په وسيله د افراطيت پر وړاندې د منځلارۍ په وسيله د مبارزې لپاره دعوت کړل.

د ۲۰۲۰ ميلادي کال د ډيسمبر پر ۲۰مه د سوډان د اوقافو وزير په مشرۍ د لوړ پوړو امامانو پلاوی، د دعوتي حرکتونو رهبران او د اسلامي فقې رهبران مصر ته ولاړل او له افراطيت څخه د فکر ساتنې په برنامه کې يې؛ چې په قاهره کې د نړيوالو اوقافو ادارې له لوري ښوونيزه برنامه پيل شوې وه، ګډون وکړ. له لوړ پوړو چارواکو سره بله برنامه هم وه چې وزير مفره له مصري چارواکو او بنسټونو سره پکې ليدنې او کتنې وکړې. خو د دې مسلې حقيقت څه دی؟

د ديني ويناوو د بدلون لپاره د سوډان حکومت له لوري د امامانو لپاره دغه ښوونيزې برنامې د امريکا دولت له لوري د اسلامي هېوادنو پر دولتونو ور تپل شوې دي، ځکه دا له اسلامي ويناوو سره د مبارزې لپاره امريکايي تحريف شوې وينا وې دي؛ هغه اسلامي ويناوې چې اسلامي امت د اسلامي ژوند بيا پيلېدو او وحت لپاره د خلافت په تاسيس سره راپاڅوي. هغوی دغه ويناوې په مسجدونو کې غواړي چې نوی امريکايي اسلام مطرح کړي؛ څنګه چې د امريکا د بهرنيو چارو پخواني وزير د ۲۰۱۷ ميلادي کال د جون پر ۱۴مه په يوه استماعيه غونډه کې د کانګرس د يو سناتور اسکاټ پري د پوښتنې په ځواب کې دا مسله بيان کړه. دې پوښتنې ته د ټيلرسن ځواب دا وه: «د سعودي حکومت په همکارۍ په رياض کې يوه اساسي لاسته راوړنه دا وه چې د اسلامي افراطي ويناوو پر وړاندې د مبارزې يو مرکز پرانيستل شو.» هغه وويل: «دغه مرکز اوسمهال پر خپل حال دی، پرانيستل شوی او موږ هلته يو. په دغه مرکز کې له ټولې نړۍ څخه بې شمېره عناصر له افراطيت سره د مبارزې لپاره ځای پر ځای شوي دي او يو عناصر چې موږ له هغه سره يوځای ارزونه وکړه او هغه په دې برخه کې اقدامات وکړل، د نويو درسي کتابونو خپرول دي چې د نړۍ په ټولو مسجدونو کې په شته مدرسو کې تدريسېږي. دا کتابونه هلته د شته کتابونو پر ځای، ځای پر ځای کېږي. موږ له هغوی وغوښتل چې نه يوازې نوي درسي کتابونه چاپ کړي، بلکې د پخوانيو کتابونو د پيدا کېدو مخه ونيسي او دا يوازې يوه نمونه ده.» ټيلرسن د خپلو خبرو پر دوام وويل: «دا مرکز ډېره پراخه لمن لري، له ټولنيزو ارتباطتي مسايلو

نیولې تر رسنیو او په اسلامي ښوونیزو مرکزونو کې د امامانو روزل هم پکې شامل دي او نن د دغه نوي مرکز د تاسیس په اړه په هغو معیارونو سره چې موږ به ځواب ویونکي وو، له هغوی سره کار کوو.»

د «سي ای اې» پخواني رییس جیمز وولسي په ۲۰۰٦ میلادي کال کې ویلي وو: «موږ به هغوی ته داسې اسلام جوړ کړو چې زموږ مناسب وي، وروسته به هغوی له انقلابونو سره حرکت وکړي، وروسته به په تعصبي شعارونو سره د یو بل پر وړاندې مبارزه پیل کړي او وېشل کېږي. وروسته به له موږ سره نښته وکړي او موږ به بریالي شو.» نو پر همدغه اساس، کومې ښونيزې برنامې چې نن په اسلامي خاورو کې فعاله شوې دي، د دې لپاره دي، څو زموږ مسجدونه په زیان اړوونکو مسجدونو بدل شي او په دې برخه کې د امریکا غوښتنې رښتیا شي او په منبرونو کې داسې ویناوې وشي چې له دین څخه د دولت بېلتون لامل شي او په اسلامي خاورو کې د غرب تمدن خپور شي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُواْ مَسْجِداً ضِرَاراً وَكُفْراً وَتَفْرِيقاً بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَاداً لِّمَنْ حَارَبَ اللّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ وَلَيَحْلِفَنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلاَّ الْحُسْنَى وَاللّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾** [سوره توبه آیهٔ 106]

**ژباړه:** *منافقان هغه کسان دي چې د مسجد جوړېدل به پیل کړي او موخه به یې مومنانو ته زیان رسول، هلته کفر ته کار کول، د مومنانو په منځ کې بې اتفاقي اچول، د مسلمانانو صفونه څېل او د هغه کس لپاره به کمین وي چې تر دې وړاندې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره جنګېدلی وي. هغوی به قسم کاوه چې له نېکۍ پرته بل نظر نه لري او یوازنۍ موخه یې هغو کسانو ته خدمت کول دي چې لمنځونه کوي او بس. خو شاهدي ورکوم چې هغوی پخپل قسم کې دروغجن وو.*

موږ باور لرو چې الله سبحانه وتعالی د کفارو دسیسي شنډوي او د خپل دین ملاتړ کوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ اللّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ إِلَى جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ** لِيَمِيزَ اللّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىَ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعاً فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾** [سوره انفال آیهٔ 36 و 37]

***ژباړه:*** *کفار خپل مالونه مصرفوي، څو خلک د الله سبحانه وتعالی له لارې وګرځوي. هغوی به خپل مالونه مصرف کړي، خو وروسته به د هغوی د پښېمانۍ لامل شي او له ماتې سره به مخ شي. له شک پرته کفار ټول دوزخ ته ځي او په هغه کې راټولېږي. دا ماتې په دنیا او په اخرت کې عذاب ورکول کېږي. څو الله سبحانه وتعالی ناپاک له پاکو څخه بېل کړي او ځینې ناپاکان پر نورو ورزیات کړي او ټول به یوځای راټول کړي او بیا به یې دوزخ ته ور وغورځوي. هغوی په دنیا او اخرت کې زیان کوونکي دي.*

خبرداری، خبرداری! د مسجدونو او منبرونو د سېکولر کولو لپاره جهنمي نقشو مخنیوي ته پام کوئ او د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره او د اسلامي امت د بیدارۍ په هدف کار وکړئ چې د ښکېلاکګرو دولتونو له نقشو څخه د امت ساتنه وکړي.

**لیکوال: عبد الله حسین**

**د حزب التحر ـولایه سوډان د مرکزي اړیکو کمېټې تنظیموونکی**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**